## ښځه او د دوی ادبی او اجتماعی ځېرې



**ناهید علومی**

**پښتنې مېرمنې د لرغونې ادبي دورې ستورې او د زړه ورتیا په ځېره کې!**

افلاطون وایی" ښځه د نارینه نیمه برخه جوړه وي نو ځکه نرتل دخپلې نیمګړې برخې بشپړېدو پسي ګـرځي او پیدا کوي یې"

راېموس نېس وایی "ښځه داسې بحردی چه دکوچنیو او سپکو ځپو سره مقاومت نه کوي. خو درانه بارونه پورته کوي "

هغو ساینس پوهانو چه دښځو په هکله آندون ( نظریات ) وړاندې کړي دی، دوی په دې سره سلا او یو خوله شوي دي، چه ښځه سربېره پردې چې د نارینوو سره فزېکی توپیر لري. خو په عقل او ذکاوت کې سره یو شان دي.
په دغه ځېړنه کې هڅه شوی ده ،چه دتاریخ په بېلا بېلو دورو کې دښځو ادبي او شعري وړتیا ووې، زړورتیاوې او ادبي جرئت په هکله را وسپړل شی، او دا خبره په ډاګـه شی چه د تاریخ په اوږدو کې دپښتنو مېرمنو ونډه په ادبي برخه کې ځنګـه او څه ډول وه.

په عمومي ډول داسې معلومېږي چې په لومړي سرکې هغه وخت چې انسانانو خپل لومړي پړاوونه تېرول، او دحېوانېت څخه وانسانېت لوري ته راتلل، ښځو پر نارینوو باندی فوقېت درلوده، په لومړیو دورو کی نر او ښځی سره مساوی حېثیت درلود. خو په طبقاتي نظام کې نر او ښځه دخپلو بادارنو په نظر کې سپک شول، په فیو ډالي دوره کې د درانه کارونو د ترسره کولو په اساس نارینه دښځو په پرتله یو څه پرمختګ کړی دی. تردې دورې را وروسته بیا تر 1800م کال پوری ښځو ورو ورو خپل موقف له لاسه ورکړی دی. او پاته راغلي دي، په شرقي هېوادونو لکه افغانستان تر اوسه پورې دوی خپل هغه مقام ته نه دي رسېدلي چي د دوی له شان سره ښایي.

ددې ټولو خبرو سره سره ددې معنا دا نه ده، چې ښځه دې په حقوقي او اخلاقی لحاظ تر نارینوو په کښته درجه ومنل شي، بلکه د انسانانو دا جوړه یو بل ته د طبعي اړتیاوو په اساس ضرورت لري که یو جنس د جذبې قدرت لري، خو دا بل جنس جذب ته اړتیا لري چي په ټولینزه توګـه طبعي غرایز

دنسل دبقا سبب ګـرځي، د همدغه طبعي خصلتونو په درلودو سره کورنۍ جوړې شوې دي او ټولنه منځته راغلې ده.

له دې پيلېزې وروسته اوس لوستونکي د پښتنې مېرمنو ادبي ستورو کتنې ته رابولوم.

په دې کې شک نشته چې هرولس ځانته خپل تاريخ ، دود، کلتور، هنر، ادب ، ژبه او داسې نور معنوي ارزښتونه لري.

ځکه هر ولس په همدغه ارزښتونو پېژندل کېږي .افغان ولس هم له دې معنوي شتمنيو څخه بې برخې نه دي.دتاريخ په اوږدو کې ددې هېواد په بېلابېلو دورو ( آريانا- خراسان او اوسني افغانستان ) کې د نارينوو نومونه او نښې ډېرې يادې شوي دي. خو د ښځوپه زړه ورتيا او يا ادبي فعاليتونو په هکله لږ او حتا هېڅ نه دي ليکل شوي.زه هم په همدې دليل د خبرو اترو خپرونی { ګفتمان } لوستونکو ته ځينې نامتو ښځينه اتلې شاعرانې ور وپېژنم چې تر اوسه ولس او لوستونکي ترې ناخبره دي.



**- زرغونه کاکړ { شاعره او خطاط }**

زرغونه د ملا دين محمد کاکړ لور وه. د کندهار په پنجوايي کې اوسېده، د وخت دوديز علوم يې له خپل پلار څخه ولوستوو زرغونه کاکړ په پښتو ادبياتو کې هغه لومړنۍ شاعره ده چې موږ ته يې نوم اود شعر بېلګـه را پاتې ده، نوموړې پښتنې شاعرې د شيخ مصلح الدين سعدي بوستان په پښتو نظم اړولی دی او نوم يې ورباندې (( بوستان د پښتو )) ايښی دی.
مېرمن زرغونې بوستان د پښتو ( 903) هجری کې پای ته رسولی دی. پر دې سربېره يې نور اشعار او غزلونه هم ويلي او د عالمانو په ډله کې مشهور وه. د زرغونې کاکړې په اړه ويل کيږي چې ډېره کمالداره مېرمنه وه. ښکلی ليک يې درلود او نورو کاتبانو به يې له حسن خط څخه د خط ډولونه زده کول. د پټې خزانې ليکوال وايي: (( پلار يې په 1102 هجری کې د زرغونې کاکړې په ليک (بوستان د پښتو ) ليدلی و چې خپل اشعار يې په خپل ليک ډېر ښکلی ليکلی وو. د نوموړې نظم بېلګـه په لاندې ډول ده.

د کلام نمونه:

اوربېدلې مې کيسه ده چې له شاتو هم خوږه ده

د اختر په ورځ سهار بايزيد چې و رويدار

له حمامه راوتلی په کوڅه کې تېرېدلی

ابرې خاورې چا له بامه راچپه کړلې ناپامه

**- مېرمن نېکبخته**

مېرمن نېکبخته د شېخ الله داد لور وه. نوموړې يوه عارفه او زاهده مېرمن وه. ديني علوم يې لوستي و. مېرمن نېکبختې د( ارشاد الفقرا) په نامه يو کتاب ليکلی دی چې د سرته رسلو نېټه يې 969هجري ښودل شوی. دکتاب موضوع پندونه او اخلاقيات دي لاندې شعر يې له پټې خزانې څخه نقل شوی دی.

د کلام نمونه:

په زړه ښاد شې ای مؤمنه په ظاهر په باطن سپنه

ظاهر زهد په اخلاص کړه په زړه ټينګ شه له يقينه

شکر صبر په هر حال کړه خود نما مه شه خود بينه

شپه او ورځ به په ژړا يې که خبرې شې له سجينه

**- ميرمن رابعه**

مېرمن رابعه په 920 هجري په شاوخوا کې ژوند کاوه. رابعه د بابرشاه هم عصرې وه او په کندهار کې اوسېده. وايي چې نوموړې زيات اشعار لرل او دېوان يې هم درلود. د هغې يوه رباعي زموږ ګـوتو ته رارسېدلې ده :

د کلام نمونه:

آدم يې ځمکې وته راستون کا په اور د غم يې سوی لړ مون کا

دوزخ يې جوړ کا په مخ د ځمکې نوم يې د هغی دلته بيلتون کا

**منبع: دښځو تاريخ ته يوه کـتنه**